# پښتون کلتوراو د حرکت اصول:یوه تنقیدي څېړنه

# THE PRINCIPLE OF MOVEMENT IN THE STRUCTURE OF PASHTUN CULTURE

**برکت شاه کاکړ***

**Abstract**: Culture constitutes the very central place in the formation of the collective social, economic, educational life of the nations. As a creative act, culture comes into being in a concrete time and space through a historical process of constant construction and deconstruction. Human needs regulate the inherent creative energy of the society that shapes particular ways of living.

This paper is going to probe the collective consciousness and evolution of thought process in the Pashtun Tradition of “Pashtunwali”. It is strived to analyze the cultural process beyond symptomatic levels and in the concrete socio-cultural context of globalization and war on terror.

د مځکي پر سر د معلوم انساني تاریخ څخه د ا خبره پهٔ ثبوت رسیږي چې انسانانو دژوند د اړتیاوو، ستونزو او امکاناتو له پاره د یوه دوامداره تخلیقي عمل پهٔنتیجه کښې نوي اوزار، آلات ،دود دستور،رسمونه او قدرونه تخلیق کړي دي. د کلتور د جوړښت تر شا دانسان د تخلیق وصف پهٔ مستقیمه ډول پهٔ حرکت کښې پاته شوی دی،ځکه و کلتور ته تخلیقي عمل هم وئیل کیږي. د تخلیق او ضرورت دغه رشته ددنیا دهري ټولني پهٔ کلتور کښې پهٔ یوه نه یوه بڼه وجود لري، چېري چې دغه رشته ډېره مضبوطه، مستقیمه او دوامداره وي هلته د کلتوري عمل د پر له پسې رغونې، نړونې او بیا رغونې عمل (Construction and Deconstruction) یې تل ګرځندی وي . دا ډول کلتوري عمل دوخت او ځای دغوښتنوالهام و مومي او ټولنیزه ډهانچه (ګومبته) پهٔ یوه ارتقایي یون کښې د خپلو تضاداتو، نیمګړتیاوو، ستونزو او امکاناتو ته پهٔ فکري، علمي او عملي توګه لارې جوړوي. داسي کلتور چې پهٔ کښي د فکر اوخیال ارتقا ژوندۍ وي، د رڼو اوبو پهٔ

---

* Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

څېړ هغه ټول کشافتونه (خيرې) له ځانه ببلوي چې پۀ فکري، معنوي او طبعي لحاظ د ټولنې د ناروغۍ، ټيټوالی اود بيلا بيلو تضاداتو پېلامه ګرځي.

که حرکت ته موږ د ژوند نښه (علامت) ووايو نو لکه د نورو سادارانو د پاره چې مهمه د ی، هم دغه ډول د يوې ټولنې د کلتوري عمل له پاره هم دغومري ارزښتناکه دی. لکه چې يو سادار ته د ژوندي پاته کېدو له پاره، خوراک ،څښاک او پۀ کار وي هم دغه ډول کلتور ته د وګړو او ټولنې د اجتماعي ژوند له پاره د نوي تجرباتو، تازه افکارو او دمينې او رښتيا پۀ شتمني پسولل شوی قدرونه پۀ کار وي. پۀ دې مقاله کښې د کلتور د ارتقايي او حرکي نظام او پۀ تېره بيا د پښتني ټولني داجتماعي کلتورديو څو اړخونو دڅېړنې هڅه شوې ده. هيله ده چې د ټولنې او کلتور روغ او بشپړه عکس به رابرسېره شي. خو د دې له پاره مهمه ده چې اول پر ټکي "کلتور" يو ځغلند نظرواچول شي.

"کلتور" د لاطيني ژبې ټکی دی چې معنا يې "کرّنه، کښت اوکرونده کونه" ده (1) . د علم اشتقاق (هغه علم چه د لغاتو رېښې څېړي) له رويه دغه توری کلتور د "ودي او روزني" پۀمعناو کښې اخيستل کيږي. اول ځل پۀ ۴۵ ميلادي کال د روم فيلسوف "سېسرو"پۀ خپل اثر"ټسکلن ډسپيوټېشن" کښې توری "کلتور" دفلسفيانه فکر او روحاني ودي او روزني له پاره کاررولی دی. دلته د انساني کردار او د ذهن ودي ته د کښت او کروندې سره نسبت ورکول شوی دی. دغه توری و انګرېزي ژبې او ادب ته د نولسمي پېړی پۀ شاوخوا کښې ننوتلی دی او بيا د يورپ د بيدارۍ پۀ وخت کښې دغه توری د مفاهيمو له لحاظه بدل رابدل شوی دی. د آن لائين "مېريم وبسټر"ډکشنري له رويه "کلچر د تعليمي عمل له لاري د انساني اخلاقو او فهم و فراست دودي عمل ته وئيل کيږي(2). هسي خو د بيلا بيلو علومو له رويه کلتور ځانګړي معناوې لري خو پۀ عمومي توګه "بشر پوهنه" هغه علم دی چې هغه د انساني ټولني او ژوند و ژواک ژوره څېړنه کوي. برطانوي بشر پوه ايډورډ بي ټېلر پۀ اول ځل پۀ۱۸۷۱ عيسوي کال کښې دعلم بشريات پۀ چوکاټ کښې خپل اثر (Ancient Culture)يعني "لرغونی کلتور" وليکی .پۀ دغه اثر کښې هغه د کلتور پۀ هکله ليکي،" کلچر ديوې ټولنې/دعلومو، اعتقاداتو، قوانينو، دود و دستور،آرټ او اخلاقي قدرونو احاطه کوي". له دې پرته "کل کهون" او "کيلي" پۀ

خپل اثر کښې ليکي، " له کلچر څخه زموږ مراد د ژوند تيرولو هغه ډيزاين دی چې دتاريخي عمل له لاري د خلگو خوښي ناخوښي، عقلي او غير عقلي رويې جوړوي(3) . د اردو ژبي ډېر نوموړی شاعر فيض احمد فيض پهٔ خپل يوه مضمون کښې د يوه قام د کلتور درې برخي ښوولي دي. هغه ليکي، (ژباړه ليکوال)"د هر قام د تهذيب او کلتور درې برخې وي، لومړی برخه د قام ځانگړي قدرونه ، احساسات او عقيدې دي. دويم د قام طريقې، آداب، او اخلاق دي. دريمه برخه د يو قام د کلتور فنون او آرټ ده. دا درې واړه يو له بل سره مبنتي وي او څوک يې بېلولی نه شي او بل دا چې د کلتور دادرې ځانگې يو پر بل پهٔ مستقيم ډول اغيزه (اثر) اچوي" (4)

دکلتور ريښه د ټکي "کلټ" سره هم ننبلول کيږي، چې د لاطيني ژبي توری دی چې معنیٰ يې د يوې خاص علاقې د خلگو دود دستور او د ژوند پهٔ هکله جمله نظام دی. دلته پهٔ تاريخي تناظر کښې د انساني ټولنيو و خاص مذهبي ميلاناتو ته چې ځانگړي اساطير ، اخلاقيات او قدرونه لري هم د " کلټ" پهٔ نا مه .يا شوي دي. له دې څخه موږ دا اندازه هم لگولی شو چې کلتور دټولنيز ژوند هغه زړه او پخوانی درخته ده چې ريښې يې د وگړو پهٔ تاريخي اواجتماعي شعورکښې ښځې دي. ذياتره ټولنپوهان کلتور ته کل وايي اود ټولني او وگړو د ژوند هر عمل ددې برخه گڼي. د ټولنې مادي، ذهني، خارجي او داخلي ټولې برخې د دې درختې ځانگې دي. ډاکټرجميل جالبي پهٔ خپل اثر کښې ليکي،(ژباړه ليکونکی) "موږد کلتور پهٔ هکله د ا وئيلای شو چې،کلتور د هغه کل نوم دی، چې پهٔ کښې د ټولنې مذهب، عقايد ، علوم او اخلاقيات ، معاملات او معاشرت، فنون و هنر ، رسم ورواج، افعال ارادي، قوانين ، د ساعت تېرولواو لوبو طرزونه او ټول عادتونه شامل دي چې يو وگړی يې د ټولنې د يوه فرد پهٔ هېڅ تر سره کوي " (5)

مخته تر دې چې موږ د پورتني بحث پهٔ رڼا کښې دپښتني کلتورپهٔ جوړښت کښې د حرکت اصول او د خيال د ارتقاء نظام و څېړو، بايد د کلتور د جوړښت پهٔ هکله پر علمي څېړنو يو ځغلند نظر واچوو.

پهٔ عمومي توگه د کلتور پر دوو يعني مادي او غير مادي برخو د ذياترو بشر پوهانو او ټولنپوهانو اجماع ده.د کلتور مادي او غير مادي برخي يو پر بل څه

ډول اغیزه کوي. پۀ دې هکله د فلسفیانو ، بشر پوهانو او ټولنپوهانو تر منځ مزغن بحث شتون لري. خو دلته به موږ د مارکس-اینګلز او د مېکس وېبر د نظریاتو ذکر وکړو چې خبره نوره هم روښانه شي. یادول پۀ کار دی چې د مارکس او اېنګلز د"مادي جدلیاتو" د معروفي مفکورې اډانه د هېګل د "تاریخي جدلیاتو" پۀ مفکوره پرتې دي چې دتاریخ دسر زوري بهیر پۀ بدلولو کښې دانسانانو اجتماعي تنقېدي شعور او عمل تر ټولو مهمه عامل ګڼي. د تاریخي عمل یون دلته دفرضیې (Thesis)، رد فرضیې (Anti-Thesis) او ددواړو برخوګډون (Synthesis)د نو وحقیقتونو د تخلیقولو پیلا مه ګرځي (6).

دکلتور د جوړښت پۀ هکله دکارل مارکس(۱۸۱۸-۱۸۸۳) اوفرېډرک اینګلز(۱۹۹۵-۱۸۲۰ ) فکر دادی چې دیوې ټولني معاشي حالات او شرائط د ټولنیزو حالاتو او انساني تعلقاتو، خیالاتو او اقدارو پېلامه ګرځي. د مارکس د وینا سره سم د کلتور د مانۍ بنیادونه (تاداو) د ټولنې پر معاشي حالاتو او شرائطو پوري اړه لري. هم دغه خبره مخته داسې را غونډه شوې ده چې ،د یوه کلتور جوړښت د ټولنې د معاشي زرایعو او اوزارو سره اړه لري. له د ې خبرې سره د جرمني ټولنیزو او سیاسي علومو ستر فلیسوف مېکس وېبر(۱۹۲۰-۱۸۶۴) له سره اتفاق نه لري. هغه ده یوې ټولني مذهبي ،عقیدوې او روحاني رشتې د هغه دکلتورتاداو(بنیاد) ګڼي. هغه و انسان ته کلتوري سادار وایي. پۀ خپل قاموس کښې هغه پۀ ډاګه وایې،(ژباړه محقق) "موږ کلتوري ساداران یو، او د دنیا پۀ هکله زموږ رویه د یوه خاص صلاحیت پۀ برکت شتون لري چې پۀ موږ کښې له ازله شین دی.(7 )

زما پۀ نزد د یو کلتور پۀ جوړښت او ارتقاء کښې که څه هم د انسانانو د معاشي ذرایعو، آلاتو ، مشینانواو ټیکنالوژي مهم رول وي خو د یوې ټولني مځکني موقعیت او جوړښت،مذهبي اعتقادات او د شاوخوا د ګاونډیانو سره ددي تعامل داسي لامل دي چې دیوه کلتورپۀ بدلون کښې ډېر مهمه رول لوبوي.

پۀ هر حال تاریخ دا حقیقت ثابتوي چې ژوندۍ انساني ټولني او قامونه د خپلي خاورې، تاریخ او ژبي سره د میني د تعلق یو داسي شعورلري چې هغه د کلتور د رغوني او په هغه کښې دضرورتونو له مخي بدلون راوستل یو عادي او تخلیقي عمل وګرځي. داسي ټولني دخپل عمل څخه علم راکشید کوي او بیا د علم

پۀ رښا کښې د يوه بل غوره عمل تابيا کوي. د برازيل نامتو تعليم پوه پاولو فرېرې و دې عمل ته Praxis وئيلي دي[1] او د اعمل د کلتورپۀ خوزښت او وده کښې ديوه حرکي توکي پۀ ډول کارکوي.

د حرکت اصول پۀ کلتوري عمل کښې د پرله پسې بدلون پيلامه ګرځي، ځکه نو وګړي او ټولنه دپرله پسې تخليقي عمل له لارې د ټولني کلتور د پر له پسې رغوني او رنګوني د روايت سره اشنا کوي. د رغوني او رنګوني او بيا رغوني عمل د انساني ټولني د ضرورتونو تابع وي ځکه ډېر پخواني او لرغوني روايات، دودونه، جامې، د فن او آرټ ډولونه او طرزونه ، روايتي لوبې، خورکونه، د زده کړې او ځرګندوني (اظهار) بېلي طريقې، لنډه داچې د ژوند هره څانګه دمستقيمه ډول بدلون پۀ ضد کښې وي.

لکه څه ډول چې د کوچياني ژوند او کليوال زرعي ژوند تقاضې سره بيلي وي او هم دغه ډول د زرعي او ښاري ژوند ځان ځان ته ضرورتونه وي. پۀ روايتي توګه چې څه وخت نن هم د پښتنانه خبره کيږي نو د يوه ايډييل (مثالي) پښتون خاکه اوس هم خلګ هغه ډول انځوروي لکه د نن څخه چې سل کاله وختي ختيځ پوهانو يا نورو تاريخ پوهانو وړاندي کړې وه. زما پۀ نزد دا ديو قام پۀ هکله يو داسې رويه ده چې له سره د هغه قام پر شنډ او شاړ تهذيبي روايت دلالت کوي، که د تاريخي عمل پۀ نتيجه کښې د يونان،روم، جرمني، جاپان او نور قامونه دوخت او ځای پۀ تقاضو ځان پوه کړي او خپل کلتور د نويو مدني او تهذيبي رويو او رواياتو سره آشنا کړي

1 پاولو فرېرې دتعليمي عمل له لارې د مظلومو انسانانواو ټولنو دآزادۍ خبر پۀ خپل اثر Pedagogy of the Oppressed کښې کړېده. دلته هغه دا خبره هم کوي چې مظلوم که د ظالم د ظلمه او غلبې څخه ځان اذادول غواړي نو بايد هغه معروضي او موضوعي حالات وپېژني چې د ده عمل او اذادي يې له ده څخه غلا کړې ده. بل داچې مظلوم بايد د ظالم د تکلاري او استبدادي طرز څخه ځان وژغوري کنې مظلوم که ظالم له منځه يوسي نو دا ډېر امکان شته چې هغه دي د ظالم کلتور، دود دستور ته دوام ورکړي، ددې له پاره هغه ده پراکسس دعمل د خپلولو وړانديز زموږ و مخته ږدي. داعمل د پر له پسې غور وفکر، عمل څېړنې او بيا د نوي عمل له پاره د تياری يو پروګريسيو او دواوداره عمل ګنړل کيږي.

پۀ دې کښې د هغو و ژبه، تاریخ، قامي عنعناتو او تر ټولو مهمه خپلواکي ته هیڅ زیان نه دی رسېدلی، بلکې دهم دغه تاریخي عمل او د کلتور د حرکي مزاج پۀ سوب هغوی د نړي وال کلي پۀ دې ګڼه ګوڼه کښې هم خپل شناخت او استقلال دایم ساتلی دی.

## پښتون کلتوراو د حرکت اصول:

که څه هم کلتور او روایت ځان له خپل حرکي مزاج لري (چې سست وي) خو پۀ پښتني روایاتو کښې ډېر داسي رسمونه، قدرونه او عنعنات شته چې د دې کلتور پر حرکي او تر قي یافته مزاج او خصلت باندي دلالت کوي. پۀ ټولنه کښې د بېلا بیلو مذهبونو ، مسلکونو، ژبو او روایاتو درلودونکو خلګو سره د پښتنو چلن کله هم د ظلم او تېري پۀ اساس نه دی تر سره شوی. پۀ کلتوري روایاتو او اقدارو کښې د بیل نظر اورېدلو ، د بېلي عقیدې درلودونکي کسانو سره د ناستي ولاړي کول عن تر دې پوري چې پۀ یوه قبیله کښې د بېل مذهب و وګړو ته د پښتونولی پۀ دایره کښې ځای ورکول ټول د دې کلتوري عمل واضح نښې دي. پښتو اولسي ادب د ټولني د کلتوري تاریخ د پلټلو تر ټولو معتبره وسیله (source) ده. د فولکلوري ادب بیلا بیل صنفونه په ټولنه کښې د بیلا بیلو مذهبونو، ژبني ډلو، مسلکونو تر مینځ د یوه دوامداره ټولنیز عمل پر شتون دلالت کوي چې په ټولنه د زغم، رواداری او قبولیت ښکارندوی دي. له دې پرته پۀ ټولنه کښې د صنف (د نر او ښځې ټولنیز توپیر) پۀ هکله هم درواداری، اعتماد، قبولیت او خپلواکی داسي عنعنات شته چې د انسانانو د برابری ولورته د پښتني ټولني د یون ښکارندوی دي. له دې پرته پۀ کوچیاني ژوند کښې تر اوسه پوري د زنانه او نر ګاړو د بیلتون تصور نه شته او کوچی زنانه اوس هم د خپل ژواک له پاره پۀ غرونو او رغونو کښې یواځي او پۀ ډاډه زړه ګرځي. له دې پرته د پښتنو ډېر داسي روایات، عنعنات او قدرونه شته چې د پښتونولی د نالیکلي دود دستور پۀ چوکاټ کښې د پښتو ن کلتور یو روښانه پارون څر ګندوي.

د پښتني ټولني تاريخي څېړنه هم دا حقيقت څر ګندوي چې پښتنون روايت د هر ډول خارجي او د اخلي ، فطري او ټولنيزو ستونزو او مشکلاتو ته خپل ځواب تخليق کړی دی. هغه که د ايراني ګورنر ګورګين خان د ظلم پهٔ ضد د پښتني قبايلو يو کېدل وو يا که د سيد احمد برېلوي (۱۷۸۶-۱۸۳۱) د وهابي ګورنر عبدالله او د هغه د هندوستاني ملګرو د پښتني ناموس پهٔ ضدپاڅون ؤ، پښتني ټولني پهٔ ډېر موثر انداز د تاريخ پهٔ پاڼو کښې خپل مزاحمت ريکارډ کړی دی. هم دغه ډول ځوا ب يې وانګريز استعمار ته پښتنو پهٔ اول(۱۸۳۹) او دويم جنګ (۸۰-۱۸۷۸ ) کښې ورکړ.تر څه وخته چې استعمار او دښمن نيغ پهٔ نيغه دجنګ مېدان ته راتلو او د جنګياليانو جنګ او ننګياليانو ننګ به دقامونو د تقدير پرېکړه کوله تر هغه وخه او ساعته پښتون قام د خپلي خاوري د استقلال له پاره تودې او بر لاسي مبارزې کړې دي. دهغه وروسته کله چې د دويم نړي ايز جنګ وروسته د نړۍ پر مخ يو نوی امپراتور د امرېکا پهٔ بڼه مخ ته راغلی او پهٔ ښکاره د روايتي اروپايي شکيلاک ګري کمبله ټوله شوه خو دهم دې ځايه د ترقۍ، جمهوريت او انساني حقوقو پهٔ نامه يو نوی استمراري نظام پلي شو چې پايله يې د نړي پر سر د سرمايه دارانه جهانيت پهٔ صورت کښې وينو.

اوس پهٔ دې تناظر کښې، پښتني خاوره او ټولنه لومړی د برطانوي هند د واکدارانو پهٔ دسيسو مستعمره او تقسيم کړل شوه، او بيا د هند د تقسيمه وروسته هم د پښتنو د يو کېدلو ارمانونه پوره نه شو. نو پهٔ پاکستان کښې دا ټاټوبې پهٔ انتظامي توګه سره بېل او پهٔ سياسي توګه ناموزه وساتل شو.او هلته پهٔ افغانستان کښې لومړی ټولنه د بادشاهت د فرسوده نظام لاندې پا تې شوه او بيا د ثور د اوښتون د هځې وروسته پهٔ مستقيمه توګه د جنګونو، بدامنيو او ورووژني او ځان خوړونکي عمل پهٔ کنده کښې ولوېده چې تر هوسه لا ورڅخه راوتلې نه ده.

که څه هم دا خارجي لامل دي ، خو دلته سوال هم دادی چې د ځانګړې مځکني موقعيت پهٔ سوب چې د خارجي قوتونه د لته دخپلو ګټوله پاره څه ډول تګلارې او چلونه کاروي؟ او هغه ته پښتون کلتوراو روايت څه ډول ځواب تخليق کړی دی؟ .

د پښتنو د سیاسي او کلتوري تاریخ پهٔ اوږدو کښې که موږ وګورو نو داسي غورځنګونه او اتلان ستهٔ چې د هغوی پهٔ سوب د پښتنو د کلتوري اوښتون او تهذیبي شته منۍ له پاره ګا مونه اوچت کړل شوي دي. پهٔ دې هکله د پیر روښان(1525-1582/85) ، خوشحال خان ختټك(1613-1689)، امیر امان الله خان(1892-1960)، باچا خان (1890-1988)او خان شهید عبدالصمد خان-1907) (1973 هڅې او غورځنګونه داسي دي چې د پښتني ټولني د بشپړه اوښتون ارمان ورسره تړلی وو. دا ټول او دغسي نور اتلان شته چي د هغوی مبارزې دخپل ځای او وخت پهٔ تناظر کښې سنجول په کار دی.

د باچا خان او د هغه د ملګرو د سامراج پهٔ ضد چي کومه مبارزه کړېده او د خدایي خدمت ګاري غورځنګ یې پېل کړئ ؤ، د اوسني وخت ټولنپوهان او بشرپوهان و هغه ته یو بشپړه کلتوري غورځنګ وایي چي ریښې یې د پښتونولۍ پهٔ روایت کښې ښخې وې.

د باچا خان ددې غورځنګ هدف او مرام د پښتنو آذادي او خپل واکي وه. ددې له پاره هغه د یوه کلتوري اوښتون (انقلاب)له لارې و دغه هدف ته د رسېدولو مبارزه پیل کړه. د انګرېز استعمار پهٔ ضد را پورته شوی دغه غورځنګ د با چاخان او دهغه د ملګرو د فکر او عمل څخه پهٔ یو ارتقایي انداز راو ټوکېدلی دی.د خدایي خدمت ګار غورځنګ اپروچ پهٔ خپل اصل کښې د تعلیمي عمل له لارې د ټولني،کلتوري او ټولنیزه اصلاح کول اوبیا د انګرېز استعمار پهٔ ضدداسي مبارزه کول ؤ چې د هغوی د قبضې ،لوټ ماراو د حمکرانۍ جواز له منځه ولاړ شي.دا دانګریز سامراج له پاره د قبائیلي پښتنو له لوري یوه ډېره غیر متوقع خبره وه چې هغوی دې د زغم جنګ (عدم تشدد) لاره خپله کړي.. ولي چې انګریزانو د سترې لوبي (ګرېټ ګیم) پهٔ ترڅ کښې د پښتنو سره درې واره پهٔ مېدان کښې ډغره وهلې وه او اوس چې د لومړي نړیوال جنګه وروسته له هغوی سره ذیات حربي تجربه او ساز او سامان ؤ نو و هغوی ته د پښتنو سره د مېدان له لارې جنګ کړل ذیات آسانه وو. ددې څرګندونه هغوی د ۱۹۳۰ پهٔ لسیزه کښې د وزیرو سره اوبیا د فقیر اېپي (۱۸۹۷-۱۹۶۰)سره پهٔ چره کي جنګونو کښې هم کړېده.

لنډه دا چي باچاخان او د هغه د ملګرو د دې تعليمي او کلتوري غورځنګ په نتيجه کښې د پښتني ټولني په کلتوري عمل ډېر اغېزناکه اثر ولوېد. ولي چي دلته نوي ټولنيزي رويې جوړې شوي چي ريښې يې د انسانانو د برابرۍ، زغم (عدم تشدد) او هر ډول نا انصافۍ څخه د ځان ژغورني په اقدارو پوري موښتې وې.

له دې پرته دخدايي خدمت ګارانو تعليمي، کلتوري ، تکنيکي رو زنی له پاره باقاعده پروګرامونه پلي شول.

دا تحريک څه ډول يو کلتوري تحريک وو؟ پۀ دې هکله که موږ د خدايي خدمت ګارانو و هغه سوګند (لوړه يا حلف) ته ځير شو چې له هغوی څخه د غړيتوب ورکولو پۀ وخت کښې پر قرآن مجيد باندي اخيستل کيدلی،هيله ده چې زما د دې دعوې له پاره به يو څه ثقه شهادت کار وکړي [2].

د لوی او بخښونکي څښتن پۀ نامه چې حاضر او ناظر دي،

زه خدايي خدمت ګار يم....

ژه به دخپلي ذاتي ګټې پرته د قام وخذمت ته ملا تړم ....

زه به هيڅکله بدل نه اخلم او زما عمل به د هيچا له پاره د آزارباعث نه جوړيږي......

زما هر عمل به له تيري (وهلو ترټلو) خلاص وي. ...

د زغم او برداشت پر دغه سوګند به زه پۀ هر وخت او هر ډول شرايطو کښې عمل کوم....

زه به دخلګو خذمت د مذهبي توپيراتو پرته کوم...

---

[2] د خدايي غورځنګ د سوګند پۀهکله بيلا بېل روايات شتون لري چې پۀ خپلو کښې سره متفاوت يا متضاد خونه دي خو د تکرار او اوږدواله احتمال البت پکښې سته. دغه سوګند مکوليکا بينرجي دخپلي پي ايچ ډي د پلټني پۀ دوران کښې ديوه سپين ږيري خدايي خدمت ګار څخه پۀ يوه انټرويو کښې اورېدلی وو او دلته يې ما (ليکوال) د پښتو ژباړه اوکړه

زه به هغه شیان پهٔ کار راولم چې ځايي/قامي خلګو جوړ کړي وي[3].

زه به دانګریز سرکار هیڅ یوه نظام/اداري سره اړه نه لرم.

ددې سوګندکه تنقیدي جا ج واخیستل شي نو داخبره به روښانه شي چې ددې غورځنګ یاتره زور د انسانانو د رویود بدلون (Behavioral Change) سره تعلق لري، او همدغه د انسانانو رویې وي چې د هغوی عمل تشکیلوي، له کوم څخه چې یو بشپړه کلتوري نظام پهٔ وجودکښې راځي چې ویوه ځانګړي ټولنیز، اقتصادي، علمي، سیاسي او قانوني نظامونه ته وده ورکوي.

## پښتون کلتورد هند د وېشه پس:

## (دسیاسي غورځنګونو جاج)

د خدايي خدمت ګار غورځنګ راوروسته بیا موږ ته په بشپړه توګه یو داسي کلتوري او تعلیمي غورځنګ په نظر نه راځي چي د پښتنو د سیاسي تنظیم تهذیبي او تنقیدي شعور او د زغم جنګ غوندي تخلیقي تګ لارې د منزل ته د رسېدلو له پاره خپلې کړي.

د ټولني د بیارغوني د مرامونو له پاره پهٔ اولس کښې دیوه تهذیبي ، تعلیمي اوسیاسي شعور د خورولو ضرورت ورځ تر ابله ذیاتېده کوم چې کم ازکم پهٔ جلسو، کارنر میټنګونو کښې د تقریرونو او له جوشه ډکو ترانو څخه پهٔ معروضي توګه امکان نه درلود. دغه ټولي تګلارې او اپروچونه چې مترقي سیاسي ګوندونو لاتر هوسه خپله همسا ګرځولي دي، د اولس اوټولني د سیاسي او تهذیبي شعورپهٔ هکله

---

[3] دلته داخبره لږ تفصیل نو ر غواړي چې انګریز استعمار پهٔ لویه سویه د هند د ټولو زرعي سیمو او معدني وسایلو درلودونکو سیمو څخه خام مال پهٔ نه سه بیعه برطانیه ته وړلو او بیا بهٔ یې د هغه ځای په کارخانو کښې دغه خام مال د فابریکایي عمل څخه تېر کړ او بیا به یې د هند او نورو مستعمره شویو علاقو ته هم دغه څیزونه پهٔ لوړه بیعه د خرڅلاو له پاره وړل، د سامراج دغه دوه مخي دکانګرس د سوادیشي غورځنګ له اړخه هم پهٔډېر بریالیتوب سره د ګاندهي جي پهٔ مشرتابه کښې وشوه.

غیر موثره ثابته شوي دي. وبلې خوا ته که وکتل شي نو هغه رجعتي سیاسي مذهبي ځواکونه چې مرام یې دیوه خاص مسلک مذهبي نظام نافذکول دي، د یو دوامداره سیاسي عمل له لارې د اولس سره خپله اړیکه نسبتاً ذیاته ټینګه ساتلې ده.

د پورتني لنډیز په رڼاکښې موږ داوئیلی شو چې په پښتني کلتور کښې چې د ځانګړي مځکني موقعیت په سوب کوم جنګونه راتپل شوي دي هغوی هم د کلتور د فطري ارتقا او پر مختګ په لار کښې لوی ډمونه تړلي دي.دغو جنګو نو ځای په ځای د پښتونولۍ کلتوري نظام سره په مقابل کښې نوي او درامد شوي کلتوري روایات ، قدرونه او دود دستور راوړی دي. اوچېري چې پښتونولي دی دخپلو مرامونه له پاره کارولی شي هلته یې په کار هم راوستلې ده. د"ننګ او بدرګې" قدرونه په خصوصي توګه پر پښتنون وطن د راتپل شویو کورني جنګونه پیلامه ګرزېدلې ده.

پروفیسر اکبر ایس احمد په خپل اوسني شایع شوي اثر کښې د وزیرستان د پښتني سیمي د کلتوري بدلون او د خلکو د رویو په هکله لیکي..(ژباړه لیکوال)"په وزیرستان کښې د عسکریت خوښونکو وسله والو ډلو د تشدد او تېري طرزعمل د پښتونولۍ لرغوني نظام ته درانه تاوانونه اړولي دي. په ټولنه کښې چې کوم ټولنیز انډول دوام درلود هغه له منځه تللی دی،د ټولني د مشرتابه معیار له سره بدل شوی دی او په اولس کښې دمایوسۍ او بېزارۍ اثرات له ورایه ښکاره دي. عام وګړي په ډاګه وایي چې اوس پښتونولي مړه شوې ده"(08)

. په دغه ډول جنګي چاپیریال کښې، د ټولني موقع پرستو وګړو هر وخت د بهرني ځواکونه ملا تړ کړی دی چې په بدل کښې مالي ګټې او منصبونه تر لاسه کړي. دانګریز استعمار سره مله ملکان، خانان او نوابان چې د وخت د استعمار ملګري یې کړې وه دپښتونولي د خودکاره احتسابي عمل له لاري وغندل شول .د پښتو روایت او په تیره فُولکلوري ژانرونو په خصوصاً ټپۀ او کاکړۍ غاړه د هر ډول دلوړي،ټولنیزي او سرمایه دارانه طبقې دخلګو کلکه غندنه کړې ده چی د پښتونولۍ دټولنیزنظام او اقدارو څخه یې انحراف کړی ؤ . خو دنني زمانې کلتوري

نظام احتسابي عمل هغومري خودکاره پاتي نه شو چې ناانصافي، ظلم او تیری د خلګو و مخ ته د یوې ستونزې پۀ شکل کښې وړاندي کړې.

د پښتونولۍ دټولنیز کلتوري نظام له رویه هر فرد و ټولني ته دخپلو اعمالو پۀ هکله جوابده وي او و بل لور ته هر فرد پۀ خپل اصل کښې Egalitarian یعني برابري خوښونکی، سیال او اذاد منشه دي.[4] هر فرد ځان د بل فرد پۀ مقابل کښې ځان برابر او سیال ګڼي. "پېغور" د پښتنې ټولني د احتسابي نظام یو ډېرموثره عمل دی چې دمنفي مرامونو تر څنګ یې دهر ډول ناانصافي، ملي خیانت، ظلم او بې ننګۍ مخ نیوی هم کړۍ دی.

خود جنګونواو نویو معاشي توپیراتو،سرمایه دارانه او طبقاتي رجحاناتو پۀ سوب چې کوم نوي ټولنیز نظام (چې ریښې یې دجنګونو پۀ سیاسي اواقتصادي ګټو(معیشت) کښې دي) رانوي شوي دي هغه د پښتني روایاتو د احتسابي نظام پۀ اوده (دم اوچو) کښې نه راځي، بلکي دا پر خپل ځای دیوه نوي کلتوري نظام دپرانستلو پۀ تابیا کښې دي چې پایله یې پۀ اولسي سویه دبشپړه تعبېدارۍ، تقدیر پرستۍ او پر هر ډول استبدادي عمل باندي پټې خلې (خاموش) دکلتور پۀ صورت کښې وي.

که موږ د روانو څلوېښت کلن جنګونو د لړۍ جاج واخلو نو داخبره به سپینه شي چې راټپل شوي جنګونو د پښتونولۍ پۀ لرغوني ژوند دود کښې ځان لره دوامداره ګنجائشونه لټولي دي. د روانو جنګونو پۀ ترڅ کښې پۀ افغانستان او پاکستان هر چېري چې پښتانه مېشته دي جنګونه او بدامني جوړه ده. د لاس د ګوتو پۀ شمېر د یو څو کسانو دجبر له لاري دعملدارۍ د قایمېدو پایله د پښتني ټولني دځانګړي مدافعتي نظام د معطله او غیر موثره کېدو پۀ هکله سوالونه راپورته کوي.

[4] د پښتونیاتو ((روحولوجي) زیاتروختیځ پوهانو لکه الفنستن،اولف کیرو، جې ډبلیو سپېن،فرېډرک بارت، ریچرډ ایزک بروس او نور او هم دغه ډول هندي او پاکستا ني لیکوالانولکه ګنډاسنګ، مکولیکا بېنرجي ، اکبر احمد او احمد رشیدپۀ دې خبره یوه خله دي چې پښتانه د خپل نالیکلي دوددستور "پښتونولي" پۀ ترڅ کښې (Egalitarian) واقعه شوي دي چې پر خپل ځای یوه انفرادي رویه ده چې ریښې یې پۀ ټولنیز احتسابي قدر"پېغور"کښې پیوستي دي.

دکورني او راټپل شويو جنګونو تر څنګ د پښتون کلتورد څېړلو بل اړخ د جهانیت د سرمایه دارانه جمهوریت ، ټيکنالوژي، اذاد تجارت او د نوي معاشي او ټولنيز نظامونو په ترڅ کښې دي. ولي چې د جهانيت په دې ګڼه ګونه کښې د نړۍ د هري سيمي کلتور، ژبي، روايات، معيشت او ټولنيز نظام په مستقيمه ډول داسي تغير خوړلی دی چی انسانان يې د حيرانتيا او خواشيني سره مخامخ کړي دي. ټيکنالوژي په سوب چې په ژوند کښې ځومري تيز بدلون راغلی د ی، هغه د روايت د سست رو ارتقايي عمل څخه ډېر ښېل دی. په انساني تاريخ کښې چې د مځکي تناوونه نن ځومره لنډ شوي دي، د پيغام رسوني، علم و معلوماتو په ميدان کښې چې د انټر نيټ او نورو اليکټرانک رسنيو څخه چې کومه تيزي په ژوند کښې راغلې ده، د هغه تصور کله هم عام انسانانو نه شو کولای. د انساني تاريخ علماء، بشر پوهان اوټولنپوهان و دې پديدي (مظهر) ته د يو داسي نا ببره بدلون په سترګه ګوري چې له دې لومړی يي چا تصور هم نه شو کولای. ايلون ټوفلر په خپل اثر ( Future Shock) کښې دغه ډول نابېره کلتوري عمل سره د لاس او ګريوان ټولنواو وګړو ته دکلچرل شاک يا ''کلتوري ګزار" متاثرين وايي. ټافلر په خپل اثر کښې دکلتوري ګزار لامل داسي ښوولی دی:

" يو کس چې کله ويوه ډېر ناولده ځای ته ولاړ شي چېري چې انساني ټولنه ډېر ناولده کلتور او روايات لري ، هلته هغه دخپلي کلتوري او تهذ يبي تجربې څخه هيڅ کار نه شي اخيستلای ولي چې هغه و يوې ښېلي دنيا (کلتور) ته تللی وي چېري چې دهغه د "هو" ځواب "نا" او دهغه دخندا معنا کورټ خښم او غصه وي. په داسي کېفيت کښې دغه کس د "کلتوري ګزار"سره مخامخ شي. په پای کښې د خپل ځان څخه دبېګانګيت په رنځ اخته شي." (9)

د پښتني ټولني د څېړني څخه هم دغه خبره جوتيږي چې په ټولنه کښې د روزګاراو تعليم ښارونو و لور ته د لېږدېدلو رحجان، دکوشنۍ او جلا کورنۍ رواج،د معاشي نظام د بدلېدلو او دپارليماني سياست له رويه د ټولنيز او کلتوري نظام بدلون داسي عوامل دي چې د پښتني ټولني ترتيب او انډول يې ور شړتولی دی. دا بدلون چې محرک يې رياستي ادارو ترقياتي ، معاشي او تعليمي پاليسياني او د پښتون

وطن ځانګړي حالات، موقعیت او دروزګار د وسائیلو نۀ شتون دی، پۀ لویه سویه پۀ پښتني ټولنه کښې بدلون راوستی دی. پۀ کراچۍ کښې ۳.۵ ملیونه پښتنانه یو ځای اوسېدل او بیا د یورپ، امریکا اونورو بهرنۍ ولاتونو کښې چېري چی ۵ ملیونه پښتانه اټکل کیږي، دا مکان زیاتوي چې د پښتون کلتور او د روان جهانیت تر منځ د مینځ ګیرو کردار ادا کړي او د ژبي، آرټ، ادب او علم پۀ مېدان کښې پښتو ژبه د جهاني علمي معیارونه پۀ کچه بډایه کړي.

**پائیله**:

د پخوانیو مدنیتونو او تهذیبونو د زوکړي،ځوانېدو (ځوځیدو) اوبیا د ړنګېدو ټول پړاوونه د هغه ټولني پۀ کلتور د باطني تضاداتو، د تخیل د الوت او د ټولنیز انصاف پۀ نظام کښې پیوست وي. دیوې ټولني د تهذیب خوځښت اوژوند برخلیک د هغه ټولني پۀ کلتور کښې د حرکت د اصول سره پۀ مستقیمه ډول تعلق لري. که چېري ټولنه او وګړي د وخت د نوو غوښتنو، ستونځو او امکاناتو پۀ حقیقي ډول ادراک وکړي او د وخت پۀ غوښتونو ځان وپوهوي، نو دا امکان شته چې هغه به د نوو اونسبتا ګران او پیچلو حالاتو سره مقابله وکړي او حالات به د ځان او ټولني پۀ حق کښې بدل کړي.

لکه څه ډول چي د دویم نړي ایز جنګ پۀ نتیجه کښې د ورانېدو وروسته ، جاپان د یوه قام پۀ حېث د خپلي بربادۍ د ایرو څخه دنړۍ پر سر د یوه نوي قام پۀ حېث د پېژندل کېدلو تابیا اوکړله او وسله یې وغورځوله اوعلم، کسب او هنر ته یې مخ واړاوه . د جاپان دغه اوښتون د کلتوري اوښتون پۀ نامه یادېږي، له دې پرته پۀ نړۍ کښې ډېر داسي نور قامونه شته چې د خپلو وګړو د اجتماعي عمل رخ یې وربدل کړ او پۀ ټولنه کښې یې داسي اقداري نظام متعارفه کړ چې ریښې یې پۀ ټولنیز او اجتماعي ګټو کښې وي او د فرد د معاشي، ټولنیزو، مذهبي او تعلیمي حقوقو خیال هم په کښې وساتل شي.

د قبائیلي ټولنیز سټرکچر، مځکني موقعیت او شنډ سیاسي عمل جبر لا وختي د پښتني ټولني بر خلیک وو. او اوس د جهانیت جبرداسي دی چې د یو ولاړ کلتور او ویدې ټولني لمنځه وړلو امکان پۀ خپل غېږ کښې ساتي. که چېري د

پښتني ټولني سیاسي و کلتوري، ادبي، تعلیمي او ټولنیز ګوندونه پهٔ شعوري توګه دغه جبري حالاتو او د طاقت ډهانچه وسنجوي نو به جهانیت پهٔ دې ارته سینه کښې پهٔ خپله دا امکان هم شته چې ټولنه دي د ټولو بهرني، جبري حالاتو او ټولنیزو تضاداتو څخه پهٔ یوه ارتقایي یون کښې خلاصون ومومي. .

# اخځلیکونه


1) Harper,Douglas(2001).OnlineEtymology, www.etymonlin.com ,Accessed 20th feb,2013.

2) Merriam-Webster,An-encyclopedia Britannica Company Online.http://www.merriam-webster.com/ dictionary/ culture Accessed Nov 20th ,2012

3) Kluckhohn, C., & Kelly, W.H. (1945). The concept of culture. In R. Linton (Ed.). *The Science of Man in the World Culture*. New York. (pp. 78-105).

4) فیض ، فیض احمد "پاکستانی تہذیب کے اجزائے ترکیبی" مشموله، کلچر . منتخب مضامین، تپولونکی اشتیاق احمد ، بیت الحکمت لاهور، ۲۰۰۷ ، م ۲۲۲

5) جالبي، ډاکټرجمیل ، پاکستانی کلچر، اتم اشاعت ،۲۰۰۸ خپرونکی محمودبرادرز ګوالمنډي راولپنډي، م۴۲.

6) جلالپوري، علي عباس ، "تاریخ کا نیا موڑ" تخلیقات لاهور ۲۰۱۰ع م ۷۲

7) The Max Weber Dictionary: Key Words And Central Concepts By Richard Swedberg, Ola Agevall Page 57, http/books.google.com.pk

8) *Ahmad, Akbar (2012), The Thistle and the Drone: How America's War on Terror Became a Global War on Tribal Islam, Brookings Institution Press(March 5, 2013)* p-231

(9)ژباړه: تافلر ایلون (ژباړه فهر عباس زیدي) مقتدره قومي زبان و ادب پاکستان طبع اول، 2011 م5